AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۴/۲۹

# څو قاعدې

## او څه باید وکړو؟

### لومړۍ قاعده:

سړک ویجاړ دی، باران په شدت اوري، ختې او خړې اوبه ډېرې دي او ډریوران پرته له دې چې د سړک اخلاق وپېژني په بېړه تېرېږي، تاسو سپیني جامې اغوستې او پر ختینه پلې لار روان یاست، هره شېبه مو د موټرو درباد کړې ختې سرتړپېنو لړلای شي.

### څه کوئ؟

الف: تاسو ولاړ یاست او فکر کوئ؛ څه فاسده ښاروالي ده، سړک یې جوړ کړی نه دی. د دولت مامورین غله دي د سړک جوړولو پیسې یې غلا کړې دي، ډریوران بداخلاقه دي او هېڅ فکر نه کوي، چې باید په احتیاط ولاړ شي او تاسو ونه لړي ...

ستاسو دا افکار ټول سم دي. خو ستاسو وضعیت بدلولای نه شي.

ب: خپله ټوله اینرژي راټولوئ، په بېړه ګامونه اخلئ، چې ژر ځان یوه خوندي ځای ته ورسوئ، پایڅې لوړې نیسئ، پر داسې څنډو ځئ، چې د موټرو درباد کړې اوبه در ونه رسېږي، په دې تمرکز کوئ، چې بل ځل په شکمنه هوا کې چترۍ له ځان سره واخلئ او سپیني جامې وانه غوندئ!

ستاسو دا افکار هم سم دي، هم عملي او هم ژغورنده مثبت بدلون راوستونکي.

### دویمه قاعده:

خلک غوسه دي؛ پر چپي ډلو غوسه دي، چې سره انقلابونه یې پیل کړل او روسان یې راوستل. پر تنظیمونو غوسه دي، چې وجنګېدل، غلا، لوټ، ویجاړي، قتل، چور، وطنپلورنه او څلوېښت کلن جنایتونه یې ترحساب تېر وکړل او لا یې هم کوي.

له جمهوریت څخه ګیله من دي، چې ولې یې تنظیمي غلو ټوپکسالارانو او لنډغرو ته دومره واک ورکړ، چې فساد، غلاوې او بداخلاقۍ یې وکړې او جمهوریت یې له دننه ورروست کړ.

د واک پر ګدۍ ناستو نه یې خوا راګرځي، ځکه همدا اوس یې پر افغان او افغانستان ژوند دوزخ کړی دی.

بهرنیان خو ټول دوښمنان دي، روسان، امریکایان، ګاونډیان، ملګري ملتونه... بل او بل.

هو، دا ټول شکایتونه سم دي، خو بدلون راوستلای نه شي، کټمټ لکه د ختو په ورځ د ښاروالۍ و فساد و باران د ملامتۍ دعوې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**درېيمه قاعده:**

همدا په غوسه ملت، همدا شاکي خلک پخپله بيا ډله ډله په همدې تنظيميانو، قاتلانو، غلو او غاصبانو پسې ولاړ دی، څوک د قوم په نامه، څوک د سيمې، ژبې، کټو، مذهب او نورو دلايلو لپاره خپل قاتلان پر خپلو اوږو سپاره ګرځوي. يوې ډلې ته د بلې ډلې اتل قاتل ښکاري او د خپلې ډلې قاتل اتل بولي.

همدا ملت هم مجاهد پرور دی، هم ځانمرګی پرور او هم شهيد پرور او هم له دې ټولو په چيغو او واوېلاوو سر . دا ملت له مشرۍ هم ستړی دی او ټول مشران ورته بد ايسي، له روښانفکرانو هم بده خاطره لري، ځکه بد ازمايل شوي دي، له هر علاجه ناهيلی او پر هرې حللارې بېباوره دی.

دا داسې ده، لکه په ختو کې د روان سپينکالي سړي، چې يو وړور په ښاروالي کې پر فساد بوخت وي، بل ورور يې له څنګه موټر په بداخلاقۍ تېروي او زوی يې هم د سړک پيسې غلا کوي، د سړک ترڅنګ روان سړی د خپلو خپلوانو په ملاتړ کلک ولاړ دی. دی ختې او باران، بداخلاقي او فساد خپل ازلي قسمت بولي او پر هرڅه بېباوره هم دی.

**څلورمه او پايليزه قاعده:**

زه چې هرڅه فکر وکړم، حللاره بېرته راځي راځي او پر خکلو، پر همدې ستړي، زخمي، ګيله من، بېباوره او ځپل شوي ملت لاس ږدي.

کېتمټ لکه په ختو کې روان سړی، چې بايد نور ټول فکرونه اوس پرېږدي او چټک و هوښيار ځان له ختو بهر وباسي. ځکه بل هيڅوک نه شته چې په دې ربړه کې يې مرسته وکړي.

ملت بايد د يوې سره اوبدل شوي، خوځنده، هوښياري، متحدې او عملي مؤسسې په توګه پخپله راوخوځي. څلوېښت ميليونه بايد راپاڅي. نور څه ورپاتې نه دي، چې له لاسه يې ورکړي. بايد ټول هغه اراذل او اوباش، چې دوی ورڅخه شکايت لري په خړ سيلاو لاهو کړي، پخپله ښايي خپله مشري وکړي او پخپله خپل واکمن وټاکي.

تر دې هاخوا بله لاره نه شته .ملګري ملتونه، امريکا، روسان او ټول ګاونډيان ستاسو ازلي دوښمنان دي. تاسو پرته له خپل ځانه بل هېڅ دوست نه لرئ!

**څه کوئ؟**

وخت يې نه دی، چې په همداسې اراده يو پراخ - ملي بحث را پورته کړئ؟

ښايي د دې ليکني په لمن کې هم ګڼ کسان وليکي،

موږ څه وکړو؟ احمد ملامت دی، محمود قاتل دی، کلبي سپی دی او مقصود يوازې خبرې کوي، يوازې په خبرو څه نه کيږي!

ښايي ډېر کسان له هغو مشرانو - چې نه شته - !!! د معجزو تمې ولري.

د معجزو زماني تللي دي، د ګډو ارادو او فکر و عمل زمانه ده!

**هااااااى!!!**

**غږ مي څوک اوري؟**

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ